داوطلبۍ ته بلنه

داخلي پرانيستې داوطلبي

پروژه: د افغانستان بانک د ارزگان، دایکنډي، هلمند او زابل نمایندگیو او د کندهار د گمرک د امنیتي ساتونکو لپاره د کانکسونو چمتو او نصب کول.

داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1405/NCB/W20

د افغانستان بانک په شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي ترڅو د افغانستان بانک د ارزگان، دایکنډي، هلمند او زابل نمایندگیو او د کندهار د گمرک د امنیتي ساتونکو لپاره د کانکسونو چمتو او نصب کولو پروژې د داوطلبۍ په پروسه کې گډون وکړي او د اړوندې شرطپاڼې چاپ شوی نقل د فلش ډیسک له لارې او یا د افغانستان بانک له وېب پاڼې (www.dab.gov.af) او د ملی تدارکاتو ادارې له وېب پاڼې (https://tenders.ageops.af/) څخه ترلاسه کړئ، خپل آفرونه په شرطپاڼه کې د ذکر شویو شرایطو او د تدارکاتو له قانون او کړنلارې سره سم په سر بنده توگه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه د سهار تر 10:30 بجو د 1405/04/17 نېټې پورې په درېیم پوړ کې د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته چې د کابل په ابن سینا واټ کې واقع دی، وړاندې کړئ. له ټاکلي وخت څخه وروسته او په آنلاین بڼه رارسېدلي آفرونه د منلو وړ نه دي.

د آفر پرانیستلو غونډه: د 1405/04/17 نېټې د چهارشنبې د سهار په 10:30 بجو د افغانستان بانک د تدارکاتو په لوی آمریت کې دایرېږي.